عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۲/۰۴

# د فتوی په باره کي مختصر بحث

( دوهمه برخه )

**دارالحرب او دارالاسلام**

که د اهل سنت والجماعة د مختلفو مذاهبو پیروان د یوې مشخصي مسلې په برخه کي مختلفي فتواوي ورکړي دا خبره چنداني عجیبه نه ده خو که د یوه مذهب پیروان، په یوه مشخصه موضوع او ټاکلي وخت کي بېلي بېلي فتواوي ورکړي نو سړی تعجب کوي.

په هند کي د بریټانوي استعمار تجارتي او وروسته پوځي او سیاسي نفوذ د اووه لسمي میلادي پېړۍ څخه پیل سو او د نولسمی پېړۍ په نیمایی کي یې په ډهلي کي د مغولو، تش په نامه، حکومت له منځه یووړ او د چارو مستقیم کنټرول یې واخیست. د نولسمي پېړۍ په دوهمه لسیزه کي، سید احمد برېلوي، د هغه نیږدې ملګري مولوي شاه اسماعیل او د هغه بل ملګري مولوي عبدالحي د برټانوي هند د حکومت او د هند په شمال لوېدیځ، ېښتني سیمو کي، د سیکهانو پر ضد جهاد پیل کړ. په همدغو وختونو، یعني د نولسمي پېړۍ په دوهمه لسیزه کي، شاه عبدالعزیز دهلوي، چي په ټول هند، په تېره بیا شمالي هندوستان کي، د هند لمر بلل کېدی، د برټانیې تر کنټرول لاندي، هندوستان دارالحرب اعلان کړ او د هغه وراره مولوي عبدالحي، چي وروسته د ۱۸۲۸ کال د فبروري په میاشت کي د سوات د سیند پر غاړه باندي د پېښور له دراني سردارانو سره، چي د سیکهانو په طرفداري جنګېدل، په جګړه کي شهید سو، هم د شاه عبدالعزیز په تعقیب هندوستان دارالحرب وباله. او پر مسلمانانو باندي یې جهاد او یا له هند څخه مهاجرت کول واجب وبلل. شاه عبدالعزیز فتوا ورکړه:

« کله چي کفار یو اسلامي هیواد اشغال کړي او د هغه هیواد مسلمانان او ګاونډیان یې ونه کړای سي چي کفار له خپلي خاورې وباسي او یا د هغوی د شړلو لپاره ریښتونی امید ونه لري او د کفارو قدرت دونه زیات سي چي د مسلمانانو د فرایضو او دیني چارو د عملي کولو مخه ونیولای سي او هیڅوک دا توان ونه لري چي، د کفارو له اجازې پرته، د هیواد د عایداتو کنټرول واخلي او د هیواد مسلمان اوسېدونکي ونه کړای سي چي د پخوا په څېر په امنیت کي ژوند وکړي نو دغه هیواد په سیاسي لحاظ دارالحرب بلل کیږي»

د شاه عبدالعزیز دهلوي په تعقیب، مولوي عبدالحي داسي فتوا صادره کړه:

« د مسیحیانو امپراطوري، له کلکتې څخه تر ډهلي پوري او د ډهلي په ګاونډ کي، شمال لوېدیځ ولایتونه، ټول دارالحرب دی. ځکه چي بُت پرستي، کفر او شرک په هر ځای کی رواج موندلی او زموږ مقدس قانون ته هیڅ ډول مراجعه نه کیږي. په هر هیواد کي چي دغه ډول حالات وي هغه دارالحرب دی. دلته د شرایطو او حالاتو بیان ته ضرورت نسته بلکه د اسلام ټول علماء پر دې خبري موافق دي چي کلکته او د هغه توابع دارالحرب او د دښمنانو هیواد دی» Hunter, The Indian Musalmans PP 134-35

دا فتواوي په داسي وخت کي ورکړه سوي دي چي لا په ډهلي کي د مغولو تش په نامه حکومت او سلطنت جاري وو. په ۱۸۵۷ کال کي، په ډهلي کي د انګلیسیانو پر ضد پاڅون پیل سو. له دې پاڅون سره د مرهټیانو رهبر ناناصاحب او د جهانسي راني، لکشمي بای هم ملګرې سوه. پاڅون وځپل سو. ناناصاحب تری تم سو. لکشمي د جنګ په میدان کي ووژل سوه او انګلیسیانو د مغولو وروستی پاچا بهادرشاه ظفر ونیوی او برما ته یې تبعید کړ. برټانیې د هند د پایتخت ډهلي مستقیمه اداره په خپل کنټرول کي واخیسته.

په زړه پوري خبره دا ده چي د شاه عبدالعزیز دهلوي او مولوي عبدالحي له فتواوو څخه تقریباً ۴۵ کاله وروسته، چي برټانیې پر ټول هند باندي مستقیم کنټرول قایم کړی وو، کله چي د مسلمانانو له لویو علماوو څخه استفتاء وسوه چي هندوستان دارالحرب دی او که دارالاسلام؛ نو درې فتواوي صادري سوې. او په درېو واړو کي هندوستان دارالاسلام بلل سوی دی. لومړی د مکې معظمې له علماوو څخه پوښتنه وسوه:

« ستاسي ستروالی دي همېشه وي. د هندوستان په باره کي ستاسي عقیده څه ده؛ چي واکمنان یې مسیحیان دي او د مسلمانانو په مذهبي امورو او واجباتو کي مداخله نه کوي. مسلمانان خپل لمونځونه کولای سي، د دوو اخترونو مراسم پر ځای کولای او د اخترونو لمونځونه کولای سي او داسي نور. مګر حکومتي مقامات په ځینو مذهبي چارو کي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مداخله کوي مثلاً هغه چاته چي له اسلام څخه وګرځي او عيسوی سي د مسلمان پلار او نيکونو په شته مني کي د ميراث حق ورکوي. موږ هندوستان ته دارالاسلام ويلای سو؟»
د مکي معظمي مفتي جمال ابن عبدالله شيخ عمر الحنفي داسي جواب ورکړی دی:
« تر څو پوري چي حتی د اسلام ځينو مراسمو او فرايضو ته د اداء کولو اجازه ورکړه سوې وي هغه هيواد دارالاسلام بلل کيږي.
دوهم جواب: تر څو پوري چي د اسلام ځيني خاص امور او مراسم په يوه وطن کي جاري وي هغه دارالاسلام بلل کيږي. . . لاسليک د شافعی مذهب د مفتي احمد بن زايني دهلان.
دريم جواب: د اسلام يو هيواد د کفارو لاسته له لوېدلو سره سم په دارالحرب نه بدليږي او يوازي هغه وخت دارالحرب بلل کيږي چي په هغه هيواد کي د اسلام ټول يا اکثر امور او فرايض له منځه يوړل سي. په مکه معظمه کي د مالکي مذهب مفتي حسين بن ابراهيم لاسليک.
د شمالي هند د علماوو فتوا:
د شمالی هند له علماوو څخه استفتاء وسوه چي آيا په هند کي، چي پخوا مسلمانان پکښی واکمنان ول او اوس د مسيحيانو له خوا اداره کيږي جهاد روا دی؟ په داسي حال کي چي مسيحيان په هيڅ توګه د مسلمانانو په مذهبي چارو او فرايضو لکه لمونځ، روژه، زکات، حج، د جمعي لمونځ او نورو سره هيڅ غرض نه لري او د مسلمانانو بشپړه ساتنه کوي او په خپلو مذهبي امورو کي يي داسي بشپړه آزادي ورکړې ده لکه د يوه مسلمان واکمن په وخت کي چي يي درلوده؛ او دغه راز مسلمانان له اوسنيو واکمنانو سره د جګړې کولو قوت هم نه لري او که جګړې ته لاس واچوي نو ماته به خوري او دا به د اسلام لپاره سپکاوی وي. لطفاً زموږ پوښتنو ته جواب راکړی.
د ۱۲۸۷ کال د ربيع الثانی پر اووه لسمه، چي د ۱۸۷۰ کال د جولای له اووه لسمي سره برابره وه، د شمالي هند علماوو دغه فتوا صادره کړه:
« په دغه هيواد کي مسيحيان د مسلمانانو ساتنه کوي او په يوه هيواد کي چي د مسلمانانو ساتنه کيږي او امنيت يي خوندي وي جهاد نسته ځکه چي په يوه مذهبي جنګ يا جهاد کي دا شرط دی چي مسلمانان به د کفارو په واکمني کي آزادي او امنيت نه لري. له بلي خوا دا ضروري ده چي د جنګ په صورت کي به بری د هند د مسلمانانو په برخه وي. که دغه راز احتمال وجود ونه لري نو بيا جهاد غيرقانوني او ناروا دی» د منهاج الغفار او فتاوای عالمګيري په استناد دغه مولويانو پورتني فتوا ورکړه.

مولوي علي محمد د لکنهو.
مولوي عبدالحی د لکنهو.
مولوي فضل الله د لکنهو.
مولوي محمدنعيم د لکنهو.
مولوي رحمت الله د لکنهو.
مولوي ګتاب الدين د ډهلي.
مولوي لطف الله د رامپور او نور.

**د کلکتي د مسلمانانو د ټولني فيصله:**
وروسته له هغه چي د شمالي هند علماوو فيصله وکړه چي هندوستان دارالاسلام دی مولوي کرامت علي دغه فتوا صادره کړه:
« دوهم سوال دا دی چي آيا دا قانوني او روا کار دی چي په هيواد کي جهاد اعلان سي او کنه. دې سوال ته مخکي جواب ويل سوی دی. ځکه چي جهاد په هيڅ توګه په دارالاسلام کي روا کار نه دی. دا خبره دونه واضح ده چي دليل او په کتابونو استناد ته هيڅ ضرورت نه ليده کيږي. اوس نو که هر تبروتلی بدبخته، د شته منی د ترلاسه کولو په غرض، د بريتانوي هند د حکومت پر ضد جنګ پيل کوي هغه بايد ياغي وبلل سي او بغاوت په اسلامي شريعت کي مطلق ناروا کار دی. ځکه نو دغه راز جنګ هم ناروا دی. او که څوک دغه راز يو جنګ پيل کوي نو د هندوستان اتباع بايد چي د خپلو واکمنانو ملاتړ وکړي؛ او د خپلو واکمنانو سره په ګډه د دغو ياغيانو سره وجنګيږي. دغه فيصله، په څرګنده توګه، په فتاوای عالمګيري کي راغلې ده» Ibid PP 207-210
په زړه پوري خبره خو دا ده چي د هند اسلامي علماوو او د مکي معظمي علماوو هندوستان دارالاسلام وباله او په هغه کي يي جهاد ته اجازه ورنه کړه او د هندوستان د واکمنانو په مقابل کي جنګ يي بغاوت وباله خو پخپله ډاکټر هنټر Hunter ، چي د بريتانوي هند يو عالي رتبه مامور وو، ثابتوي چي هند د مسلمانانو لپاره د دارالحرب حيثيت درلود.
هنټر وايي د شمالي هند مسلمانانو هندوستان دارالحرب وباله مګر په هغه کي يي د مسلمانانو له خوا د جنګ او بغاوت پيل کول بې ضرورته او بې ګټي کار وباله؛ مګر د کلکتي د مسلمانانو ټولني يوه رساله خپره کړه او په دلايلو يي وښودله چي هندوستان دارالاسلام دی او بايد چي مسلمانان ښورښ او جنګ ونه کړي. هنټر وايی د مکي علماء په دې حقيقت پوهېدل چي هندوستان دارالحرب دی مګر پخپله فتوا کي يي وويل چي هندوستان دارالاسلام دی او دا د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

هند په مسلمانانو پوري اړه لری چي یا په جنګ او یا په نورو وسایلو کفار له خپله ملکه وباسي چي د دوی څخه یې حکومت غصب کړی او په سلو وسایلو او لارو یې د مسلمانانو د مخکنیو واکمنانو د ادارې او اجراآتو په طرز کي مداخلې کړي او تبدیل کړي یې دي.

هنټر لیکي چي په د غه مسله کي په فتاوای عالمګیري استناد سوی دی؛ په داسي حال کي چي د فتاوای عالمګیري څخه مخکي لیکل سویو پخوانیو اسلامي متونو او د هغو شرایطو په اساس چي ابوحنیفه ذکر کړي دي هند دارالحرب دی. هنټر په دغه باب، چي یو هیواد څه وخت دارالحرب بلل کېدلای سي، د فتاوای سراجیه، چي په شاوخوا ۶۰۰ قمري یا ۱۲۰۴ میلادي کي، د حنفی فقهی په اساس، لیکل سوې ده، او فتاوای عالمګیري، چي د مغول اورنګزیب عالمګیر په زمانه کي ترتیب سوې ده، فتواوي سره مقایسه کوي:

« د کلکتې د علماوو د رسالې په دریم مخ کي، د فتاوای عالمګیري په استناد لیکل سوي دي:

۱: کله چي د کافرانو ښکاره واکمني روانه وی *او د اسلام فرایض او امور په آزادانه توګه عملي کېدلای نه سي.*

په فتاوای سراجیه کی راغلي دي: ۱: کله چي کفار په ښکاره توګه واکمن وي.

عالمګیري. ۲: کله چي هیواد له دارالحرب سره په داسي توګه په ګاونډ کي پروت وي چي د دارالاسلام هیڅ ښار د هغوی او دارالحرب په منځ کي حایل کېدلای نه سي.

سراجیه. ۲: کله چي هیواد له دارالحرب سره داسي په ګاونډ کي پروت وي چي په منځ کي یې هیڅ دارالاسلام هیواد نه وي چي له دوی سره مرسته وکړای سي.

عالمګیري. ۳: چي مسلمانان هیڅ مذهبي آزادي ونه لري او یو ذمي( یو کافر چي په دایمي توګه یې د مسلمانانو د حکومت تابعیت منلی وي ) هم هغه مصوونیت ونه لري چي د اسلام د حکومت په وخت کي ورڅخه برخمن وو.

سراجیه. ۳: کله چي نه مسلمان او نه ذمي بشپړ مصوونیت ولري.»

ډاکټر هنټر لیکي چي که د هند په برخه کي د جهاد په باب دغو دریو شرایطو ته، د زړو متونو له مخي، وګورو نو هند یو دارالحرب هیواد دی. دی وایي لومړی شرط د کفارو د څرګندي واکمنی دی. که موږ هند ته وګورو نو د دې هیواد په برخه کي لومړنی شرط صدق کوي یعني هند په مستقیمه توګه د کفارو له خوا اداره کیږي.

هنټر وایی د اسلام د زړو متونو په اساس هند ځکه دارالحرب بلل کیږي چي د هند او اینګلینډ ترمنځ هیڅ داسي اسلامي هیواد موجود نه دی چي د هند یا دارالحرب له مسلمانانو سره مرسته وکړي. هنټر وایی د هند او اینګلیند ترمنځ سمندر پروت دی او په زړو اسلامی متونو کي سمندر پخپله دارالحرب بلل سوی دی.

هنټر لیکي چي دریم شرط د بشپړي مذهبي آزادی او مصوونیت دی، چي هغه لکه څرنګه چي د مسلمانانو د حکومت په وخت کي موجود وو اوس نسته. هنټر لیکي چي د مسلمانانو مذهبي آزادي او ټولي چارې زموږ په خوښه او اجراآتو پوري اړه لري او هغه مذهبي آزادي او مصوونیت نه لری چي مخکي یې درلود. مثلاً د برتانیې حکومت له مسلمانانو څخه مالیات اخلي او خپلي کلیساوي په جوړوي او یا له دغو مالیاتو څخه خپلو پادریانو ته تنخواوي ورکوي. د ټولو مسلمانو ګورنرانو او اولسوالانو پر ځای باندي انګلیسیان مقرر دي. د هند په بازارونو کي د خوګ غوښي او شراب په عامه خرڅیږي او په ټولو محاکمو کي قضا د انګلیسیانو په لاس کي ده؛ او ټول جنایی قوانین یې له اسلامي شریعت څخه اړولي او د خپلو قوانینو په اساس اجرآت کوي. هنټر وایی زموږ د قانوني اجراآتو او مذهبي زغم ټول سسټم د اسلامي شریعت سره مخالف دی او د مسلمانانو لپاره هغه مصوونیت نسته چي د خپل حکومت په وخت کي یې درلود. هنټر وایی په لنډ ډول ویلای سو چي هند په هرصورت دارالحرب دی. Ibid PP 117-121

هنټر د امام ابوحنیفه د شاګرد امام محمد د کتاب « مبسوط » په حواله لیکي چي که یو اسلامي هیواد د کفارو لاسته لویږي نو هغه هیواد تر هغه وخته پوري د مسلمانانو هیواد بلل کیږي *تر څو کفارو مسلمان ګورنران او قاضیان بدل کړي نه وي او په هغه هیواد کي یې خپل قوانین جاری کړي نه وي.*

هنټر وایي موږ مسلمان ګورنران نه دي ساتلي او د مسلمانانو ټول قاضیان مو برطرف کړي دي. موږ خپل قوانین او مقررات جاري کړي دي او د هند د مسلمانانو د ډېر لوی اکثریت د نظر له مخي هند نور دارالاسلام نه دی.

هنټر لیکي چي وهابیانو ( انګلیسیانو د شاه عبدالعزیز او د شهیدسید احمدبریلوي پیروان وهابیان بلل، جهاني ) اعلان وکړ چي هند د دښمنانو هیواد دی او د واکمنانو په مقابل کي یې جهاد فرض دی. د کلکتې علماوو د هغوی دا نظر رد کړ او د شمالي هند علماوو د وهابیانو نظر رد نه کړ خو جهاد یې فرض ونه باله. Ibid P 122

زه ګومان کوم دا په زړه پوري بحث دی او زه د ټولو هغو کسانو څخه چي په اسلامي شریعت او احکامو کي زده کړې، مطالعه او، د نظر څرګندولو لپاره، صلاحیت ولري هیله کوم چي په دې باره کي لیکني وکړي. که د امام محمد او د مکې معظمې د علماوو فتواو ته وګورو نو په دې حساب خو په اسلامي هیوادونو کي ټول مقاومتونه، په تېره بیا هغه مقاومتونه چي د تشدد لاره یې غوره کړې وي، ګمراه دي. تحریک طالبان پاکستان یا تی ټي پي او دغه راز القاعده، داعش او نور دغه ډول تحریکونه ټول محکوم دي؛ ځکه چي ټول په دارالاسلام کي عملیات کوي او تلفات یې یوازي مسلمانانو ته رسیږي.

له بلي خوا که چیري د مکې معظمې د علماوو فتوا او د دارالاسلام په باره کي د امام محمد نظر ته وګورو نو بیا خو په دې تېرو څه باندي شلو کالو کي په افغانستان کي جهاد او مقاومت هم تر سوال لاندي راځي.

په دې کي شک نسته چي پر افغانستان باندي د امریکا او ناټو د هیوادونو یرغل دونه ظالمانه وو چي هیڅ ډول پلمه ورته جوړېدلای نه سي. مګر خو له جمهوررییس څخه تر کاتبه، له جنرال څخه تر خوردضابطه او له قاضی القضات



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښخه د محکمې تر کاتبانو پورې ټول مسلمانان ول. په افغانستان کې هیڅ ډول کفري قانون جاري نه وو او پر ملي بیرغ باندې یې کلمه طیبه لیکلې وه. نو لکه ځرنګه چې اوس د اسلامي اِمارت په مقابل کې د داعش او نورو ډلو عملیات غیر شرعي او بغاوت بلل کېږي دغه راز د طالبانو مخکني عملیات، چې ډېر لږ امریکایان او د ناټو عسکر پکښې قتل سول بلکه په زیاترو حملو کې یې بېګناه مسلمانان، ماشومان، ښځې او مسلمان عسکر قتل کېدل، هم تر یو ډول سوال لاندې راتللای سي. البته زه په دې باره کې زیات صلاحیت نه لرم او د اسلام د مذهبي متونو په رڼا کې، چې مخکې مو اشاره ورته وکړه، لیکنه د جواب نه بلکه د سوال حیثیت لري.

پاته لري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ